
# فنکشنل انالیزې

**Funktionalanalysis**




Ketabton.com

ډاکتر ماخان میرزي شینواری

دلوي خښتن په نامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې هيله، چې په دې ليکنو او ژباړو به مې  زموږ د بې وزلې او له پوهې پاتې ملت - په ما د پوهنې لپاره د لګښت - لپاره د پوهنې په لور داسې لږ ونډه اخستې وي.

## کتاب پيژندنه


د کتاب نوم:   فنکشنتيوري

ليکونکی:

ژباړی   :   ډاکتر ماخان،، ميری،، شينواری

د خپريدو لړی   ..........................

خپرندوی:   د افغانستان کلتوري ودې ټولنه

جرمني

چاپ کال   ۲۰۱۲



د ژباړي بريښنا پته :   smakhan1946@gmail.com


چاپ چارې

چاپ ته يې د هر چمتو هيوادوال مرسته په سترګو منل کيږي

.

پښتو مو ژبه او شميرپوهنه پرې ساده ده

نيوليک

(c) ketabton.com: The Digital Library

متريکي فضاوې ۱
د اويکليد يا اقليدس متريک ۲
د هامينګ واټن ۲
په متريکي فضاو کې پولې ته تلنه ۳
په متريکي فضا کې د کوشي پرلپسي(ترادف) ۴
د يوې متريکي فضا پوره- يا تکميلوالی ۴
نورم ۵
د يوې نورمي وکتور فضا متريک ۶
اپيسيلون- جال ۹
په متريکي فضاوو کې کومپاکت(سره نښتی) ۱۰
په يوه ساحه باندې ناپرېکيدونکي توابع ۱۱
ازماېښتي توابع ۱۱
کمزوري يا ضعيف مشتقونه ۱۲
توپولوژيکي وکتور فضاوې ۱۳
د بانخ فضا ۱۴
په يوه کومپاکت ډېريو باندې ناپرېکيدونکې توابع ۱۴
په کومپاکت ډېريو باندې مشتقوړ توابع ۱۴
**p** -انتيګرالوړ توابع ۱۵
محدود توابع ۱۶
د موزونو اريتميتيکي او هندسي منځ ترمنځ .. ۱۶
د انتيګرالونو لپاره د هولدر نابرارونونه ۱۸
د انتيګرال لپاره د مينکوفسکي ناوساوات ۱۹
د سوبوليف فضاوې ۲۱
د سوبوليو په کې خونديوني جمله ۲۵
د بانخ ځای په ځای ټکي جمله ۲۷
سکالار ضرب ۲۸
هيلبرت – فضا ۲۹
مربع جمعه کيدونکي پرلپسي ۳۰
مربع انتيګراوړ توابع ۳۰
د مربع انتيګرالوړ توابعو سوبوليف – فضا ۳۲
د هاردي-ليبسک فضا ۳۳
پوره اورتونورمالسيستم ۳۴

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هيلبرت٠فضا کې فوری-پروجکشن (پرېوستون) ٣۴
په هيلبرت- فضا باندې د کونوکسو .... ٣۶
په هيلبرت-فضا کې اورتوگونال کومپليمنت ٣٨
په هيلبرت-فضا کې د بيسل-نامساوات ٣٩
په هيلبرت- فضا کې د فورير(فوريې) وديزيينه ۴٠
په هيلبرت – فضا کې د پارزيوال-کتمتوالی ۴١
ناپرېکيدونکې کربښيز فنکشنال ۴٢
د هان-بانخ د دوام( مخ ته بيونې) جمله ۴۵
دوال- يا دوه گونې فضا ۴٨
بيدوالفضا ۵٠
د p - انتيگراوړ توابعو دوالفضا ۵٠
د ريسخ د انخورولو جمله ۵١
کمزورې پولې ته تلنه ۵٣
محدود کربښيز اوپراتورونه ۵۵
انتيگرال اوپراتور ۵۵
د کربښيزو اوپراتورونو پولې ته تلنه ۵٧
برابرډوله پولې ته تلنه ۵٧
د برابر ډوله محدودوالي اصول ۵٧
د باناخ-شتاينهوز جلمه ۵٨
کومپاکت اوپراتورونه ۶١
د وازو توابعو په هکله جمله ۶٣
د رابند يا بند گراف جمله ۶۵
په هيلبرت-فضا کې د يوه کربښيز اوپراتور ماتريکس ۶۶
ادجونگيرې اوپراتور ۶٩
يونيتار اوپراتور ٧٠
د يوه کربښيز اوپراتور آيگن ارزښتونه ٧٣
د هرميتيکې اوپراتورونو آيگن ارزښتونه ٧۴
د يوه هرميتيکې کومپاکت اوپراتور نورم ٧۵
د کومپاکت هرميتيکې اوپراتورونو سپکترال آنځورون ٧٩
شتورم-ليوويل-پرابلم ٨١
گړندی لوېدونکی ازماېښت تابع ٨۴
تيمپيريرې ديسريبوشنونه ٨۶
د تيمپريرې ديستريبيوشنونو مشتق ٨٨
ديراک- او هيويزايد – فنکشنال ٨٩
اپروکسيمې کتمتوالی ٩١

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ګرندي لويدونکو توابعو د فوريې- ترانسفورميشن ۹۳
د يوه تيمپيريري ديستريبيوشن د فوريې –ترانسفورميش ۹۴
د ماتو نظمونو د سوبوليف-فضاګانې ۹۶
ترانسليشنن اينواريانت اوپراتورونه ۹۹
د لاپلاس - اوپراتور بنسټيزه اوبيونه( حل) ۱۰۲
د ډاکتر ماخان شينواري چاپ شوې ليکنې: ۱۰۵

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فنکشنل انلیزې Fuktionalanalysis

## متریکي فضاوې

یوه ډېری یا سټ $M$ متریکي بلل کیږي، که په $M$ باندې یو فنکشنواتن یا تابع واټن $d$ د لاندې خویونو سره تعریف وي:

M1 زیاتیزوالی یا مثبتوالی $d(x,y) \geq 0$ او $d(x,y)=0$ تیک هلته، که $x=y$ وي.

M2 سیومتري

$$d(x,y)=d(y,x)$$

M3 درېګوډېز – یا مثلثاتي مساوات

$$d(x,z) \leq d(x,y)+d(y,z)$$

د ټولو $x,y,z \in M$ لپاره.

تابع $d$ د $M$ متریک په حیث هم بلل کیږي.

د متریک له لارې په کانونیکي ډول په $M$ باندې یوه توپولوژي هم تعریفیږي. له

$$B(x_0;r)=\{x \in M : d(x,x_0)<r\}$$

سره په $x_0$ باندې یو واز غونداری د وړانګې $r$ سره هم په نخښنه کیږي. یوه برخه ډېرئ $U \subseteq M$ نو له دې امله وازه بلل کیږي، که هر یوه $x \in U$ ته یوه وړانګه $r>0$ شتون ولري، داسې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

$B(x;r) \subseteq U$

دی.
ليکونکي: اِيپ او هوليک

## د اويکليد يا اقليدس متريک **Euklidische Metrik**

په $\mathbb{R}^n$ کې د اويکليد واټن

$$d_2(x,y) = \sqrt{\sum_{k=1}^{n} |x_k - y_k|^2}$$

يو متريک دی.
مثبتوالی او سيومتري سملاسي ليدل کيږي او درېګوډي مساوات سيده د لاندې مينکوفسکي Minkowskischen نابرابرون څخه لاس ته راځي:

$d_2(x,y)$
$=$

$$= \sqrt{\sum_{k=1}^{n} |(x_k - z_k) + (z_k - y_k)|^2} \leq \sqrt{\sum_{k=1}^{n} |x_k - z_k|^2} + \sqrt{\sum_{k=1}^{n} |z_k - $$

ليکونکي: اپپ، هيوليک

## د هامينګ واټن **Hamming-Abstand**

پای پرلپسي له 0 او 1 د کودکول په تيوري کې (دوه بيز- -Binär) لغاتونه بلل کيږي.

د دوه $n$ -ځايزو لغاتونو $x$ او $y$ د هيمينګ-واټن

$=$

$d_H(x,y) =$ د $k$ ګنون يا تعداد د $x_k \neq y_k$ سره

يو ماتريکس دی په $n$ -ځايزو بينارلغاتونو.
د بيلګې په توګه د $n = 3$ لپاره
$d(011,110) = 2$

او واز غونډاری $B(101;2)$ او $x = 101$ د وړانګې 2 سره توکي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$001, \quad 111, \quad 100 \,.$$

خوندي لري.
توکي چې له $101$ په دوه ځايونو کې توپير لري، په دې پورې اړه نه لري، ځکه واټن بايد له دوه کوچنی وي.
مثبتوالی او سيمتري روښانه دي. د درېګودي نامساوات د ورته واي تعريف څخه لاس ته راځي

$$d_H(x,y) = \sum_{j=1}^{n} |x_j - y_j|$$

او د مطلقه ارزښتونو

$$|x_j - z_j| = |x_j - y_j + y_j - z_j| \leq |x_j - y_j| + |y_j - z_j| \,.$$

لپاره د درېګودي نامساوات.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## په متريکي فضاو کې پولې ته تلنه

په متريکي فضا $M$ کې يوه پرلپسي $(x_n)$ پولې $x \in M$ ته تلونکي بلل کيږي، که دا لاندې باور ولري.

$$\lim_{n \to \infty} d(x_n, x) = 0$$

توکی $x$ د $(x_n)$ پرلپسي پوله بلل کيږي او يوائځنۍ ده.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

که $(x_n)$ د $x$ او $y$ په لور وهڅيږي، نو باور لري

$$d(x,y) \leq d(x_n, x) + d(x_n, y)$$

د ټول $n$ لپاره، او داچې

$$\lim_{n \to \infty} d(x_n, x) = \lim_{n \to \infty} d(x_n, y) = 0$$

دی، بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library

$d(x,y)=0$

هم وي او له دې سره $x=y$ باور لري، داپه دې معنا چې پوله ارزښت يواځنی دی.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## په متريکي فضا کې کوشي- پرلپسي(ترادف)
**Cauchy-Folgen in metrischen Räumen**

په يوه متريکي فضا $M$ کې يوه پرلپسي $(x_n)$ کوشي – پرلپسي بلل کيږي، که د هر $r>0$ لپاره يوه پيژند نخښه يا ايندکس $n_0$ شتون ولري، داسې چې د ټول $m,n>n_0$ لپاره

$d(x_m,x_n)<r$

باور ولري. په ځانګړې توګه پولې ته تلونکې پرلپسي کوشي-پرلپسي ده.
که په يوه متريکي فضا $M$ کې هره کوشي-پرلپسي په $M$ کې يو پوله ارزښت لري، نو $M$ پوره يا مکمل بلل کيږي.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

په $M$ کې دې $(x_n)$ يوه پولې ته تلونکې پرلپسي وي د پولې ارزښت $x\in M$ سره. د هر $r>0$ لپاره يو ايندکس $n_0$ شتون لري، داسې چې د ټولو $n>n_0$ لپاره

$d(x_n,x)<r/2$

باور لري. نو د دريګوټي نامساوات له مخې بيا دا لاندې باور لري

$d(x_m,x_n)\leq d(x_m,x)+d(x,x_n)<r/2+r/2=r$

د ټول $m,n>n_0$ لپاره. د دې په تعقيب په $M$ کې هره پولې ته تلونکې پرلپسي کوشي – پرلپسي ده.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د يوې متريکي فضا پوره- يا تکميلوالی

که د يو متريکي فضا $M$ يو واټن تابع $d$ په يوه پورته ډېرئ $\widetilde{M} \supset M$ تعريف وي، کومه چې په $M$ کې د ټولو کوشي-پرلپسيو پوله رازښتونه خوندي ولري، نو پايونه $\overline{M} \subseteq \widetilde{M}$ نسبت و $d$ ته د $M$ پوره کيدونکې بلل کيږي.

په ټوله توګه کيدی شي د $M$ پوره کيدنه بې له په پورته -ډيرئ کې له خونديوني تعريف شي. له دې سره سرې $\overline{M}$ د پولې ته تلونکو پرلپسيو ورته ټولګي سره په نخښه کوي يا پيژني.
د ډېريو پوره کيدنه د ناپريکيدونکو توابعو په څېړنه کې غوره رول لوبوي.
خويونه، کوم چې په کې باور لري، کيدی شي د د پوله ارزښت-جوړونو له لارې $\overline{M}$ ته يووړل شي. بېّ ځانګړې توګه يو ناپريکيدونکی تابع همدا اوس په $M$ د هغه ارزښتونو له لارې يواځنی ټاکل شوی دی.
ليکونکي: ايپ، هيوليګ

## نورم Norm

په حقيقي يا کومپلکس وکتور فضا $V$ يو نورم يو تابع
$\|\cdot\| : V \to \mathbb{R}$

دی د لاندې خويونو سره:

- Positivität: مثبتوالی(زياتيزوالی)

$$\|v\| > 0 \quad \text{د} \quad v \neq 0 \quad \text{لپاره}$$

- Homogenität: هوموجينيتي

$$\|\lambda v\| = |\lambda| \|v\|$$

- Dreiecksungleichung: دريګوډيز- مثلثاتي نامساوات

$$\|u + v\| \leq \|u\| + \|v\|$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلته $u, v$ په خوښه وکترونه دي او $\lambda$ يو په خوښه سکالار.

د يوه نورم په مرسته کيدی شي د

$$d(u,v) = \|u - v\|$$

له لارې د دوه وکوترونو په منځ کې يو واټن تعريف شي.

ليکونکي: اپپ، هيوليک،هيوررنر

## د يوې نورمي وکتور فضا متريک
## Metrik eines normierten Vektorraumes

په يوه وکتورفضا $V$ د يوه نورم $\|\cdot\|$ دواټنتابع يا واټنفنکشن
$d(u,v) = \|u - v\|$

سره برابر دی. دا ځانګړی متريک دوه ورزيات خويونه لري:

- ترانسليشن اينواريانځ يا د د خوژښت يا کښولو سره بې تغيري Translationsinvarianz

$$d(u + w, v + w) = d(u, v)$$

- هوموجينيتيHomogenität

$$d(\lambda u, \lambda v) = |\lambda| d(u, v)$$

د ټولو $u, v, w \in V$ او سکالار $\lambda$ لپاره.
ليکونکي: اپپ، هيوليک

### نيم نورم Halbnorm

په يوه حقيقي يا کومپلکس وکتور فضا $V$ باندې يو نيمنورم يو تابع
$p : V \to \mathbb{R}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی د لاندې خويونو سره:

HN1(HN د نيم نظم لپاره)

: ناکميزوالی يا نامنفيوالی:

$$p(v) \geq 0$$

HN2

:Homogenität هوموجينوالی

$$p(\lambda v) = |\lambda| p(v)$$

HN3

:Dreiecksungleichung درېګوډي يا مثلثي نابرابرون

$$p(u+v) \leq p(u) + p(v)$$

د ټولو $u, v \in V$ او $\lambda$ لپاره.

يو نيم نورم ټيک هلته يو نورم دی، کله چې $p(x) = 0$ فقط د $x = 0$ لپاره باور ولري.

د نيم نورم د تعريف لپاره وروستني دواړه خويونه بسيا کوي. ناکميزوالی کيدی شي له دوي لاس ته راوستل.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

له هوموجينيټي څخه سيده لاس ته راځي

$$p(0) = p(0 \cdot x) = 0p(x) = 0$$

او د درېګوډي نامساوات سره

$$0 = p(0) = p(x + (-x)) \leq p(x) + p(-x) = $$
$$= p(x) + |-1| p(x) = 2p(x) \,,$$

دا په دې معنا چې ناکميزوالی يا نامنفيوالی

$$p(x) \geq 0$$

دی، د ټولو $x \in V$ لپاره.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## متريک، چې د نيم نورم څخه رامنځ ته کيږي
## Metrik, induziert durch Halbnormen

(c) ketabton.com: The Digital Library

که په یوه وکتور فضا $V$ د نیمنورم یوې پرلپسي $(p_k)$ لپاره

$$p_k(v) = 0, \quad k \in \mathbb{N} \Longrightarrow v = 0$$

باور ولري، د ټول $v \in V$ لپاره، نو نیمنورم یو متریک منځ ته راوړي. د کانوني واټن تابع دا لاندې ده

$$d(u,v) = \sum_{k=1}^{\infty} 2^{-k} \frac{p_k(u-v)}{1+p_k(u-v)} \,.$$

نسبت دې متریک ته پرلپسي $(v_n)$ ټیک هلته د $v$ په لور ځي یا هځیږي، که

$$\lim_{n\to\infty} p_k(v_n - v) = 0$$

د ټولو $k \in \mathbb{N}$ لپاره باور ولري.

لیکونکي: اېپ، هیولیګ

د متریک د اکسیمونو څخه یوازې د درېګوډي نامساوات ساده نه دي. باور لري

$$\frac{p_k(u-w)}{1+p_k(u-w)} = 1 - \frac{1}{1+p_k(u-w)}$$

$$\leq 1 - \frac{1}{1+p_k(u-v)+p_k(v-w)}$$

$$\leq \frac{p_k(u-v)}{1+p_k(u-v)} + \frac{p_k(v-w)}{1+p_k(v-w)}$$

او له دې سره دی

$$\leq d(u,v) + d(v,w) \;.\; d(u,w)$$

د پولې ته تلنې لپاره لومړی نیسو، چې

$$\lim_{n\to\infty} d(v_n, v) = 0$$

باور لري او یو $k$ شتون لري، داسې چې

$$\lim_{n\to\infty} p_k(v_n - v) = 0$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور نه لري. له دې سره نو يو برخه پرلپسي $(v_{n_j})$ شتون لري چې د هغې لپاره تل
$$p_k(v_{n_j} - v) > \varepsilon > 0$$
باور لري او له دې امله
$$d(v_{n_j}, v) \geq 2^{-k}\frac{\varepsilon}{1+\varepsilon} > 0$$
باور لري، کوم چې مخامخوالی یا تضاد دی.

له بله پلوه دې $\varepsilon > 0$ وي او باور دې ولري
$$\lim_{n\to\infty} p_k(v_n - v) = 0$$
د ټول $k$ لپاره. نو يو $k_0$ شتون لري، داسې چې
$$\sum_{k=k_0+1}^{\infty} 2^{-k}\frac{p_k(v_n - v)}{1+p_k(v_n - v)} < \frac{\varepsilon}{2}$$
باور لري. پسې هم نسبت نيممتريک ته د پولې ته تلنې له امله لاس ته راځي، چې د $1$ او $k_0$ تر منځ دهر $k$ لپاره يو $n_k$ شتون لري، داسې چې د ټولو $n > n_k$ لپاره
$$p_k(v_n - v) < \frac{2^{k-1}}{k_0}\varepsilon$$
باور لري. که کيږدو
$$n_0 = \max_{k=1,\dots,k_0} n_k\,,$$
نو د ټولو $n > n_0$ لپاره باور لري
$$d(v_n, v) =$$
$$\sum_{k=1}^{k_0} 2^{-k}\frac{p_k(v_n - v)}{1+p_k(v_n - v)} + \sum_{k=k_0+1}^{\infty} 2^{-k}\frac{p_k(v_n - v)}{1+p_k(v_n - v)}$$
$$< \sum_{k=1}^{k_0} 2^{-k}\,\frac{2^{k-1}}{k_0}\,\varepsilon + \frac{\varepsilon}{2} = \frac{\varepsilon}{2} + \frac{\varepsilon}{2} = \varepsilon\,,$$
څه چې نسبت متريک ته پولې ته تلنه ښايي.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایپسیلون- جال **Epsilon-Netz**

د یو متریکي فضا $M$ د یوې برخدېرۍ $K$ لپاره یو $\varepsilon$ – جال یو پوښوونکی یا پټوونکی دی، چې د پاي ډېرو غونډارو
$B(x_1;\varepsilon),\ldots,B(x_n;\varepsilon)$

جوړ دی. دا مینیمال وړانګه $\varepsilon_n(K)$، چې د $n$ منځټکو $x_i$ په ښه یا اوپټیمال ټاکنې د $M$ پوښوونې ته بسیا کوي، د $\varepsilon$-اینتروپي $\varepsilon$-Entropie (فزیکي لویه چې د تودخۍ پروسي خوزښتلور په نخښه کوي)بلل کیږي.
که یوه $K$ ته د ټولو $\varepsilon > 0$ لپاره یو $\varepsilon$-جال شتون ولري، نو $K$ توتالي محدود یا رابند بلل کیږي.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

په متریکي فضاوو کې کومپاکت(سره نښتی) او نسبي کومپاکت ډېرۍ

د یوه متریکي فضا $M$ کومپاکت برخه ډېرۍ $K$ کیدی شي په درې ورته ډولونو خویونیز شي
لومړی: هره وازو ډطریو سره د $K$ پټه ونه یا پوښونه هر پای برخه پوښونه لري.
دویم : په $K$ کې هره پرلپسې یوه پولې ته ت لونکې برخه پرلپسې په $K$ کې لري.
دریم : $K$ توتالي محدوده او پوره ده.
په پام کې دې وي، چې په $\mathbb{R}^n$ کې باوري د کومپاکت ډېرۍ کرکتریزه کونه په دریم کې محدودیت او رابندوالی په ګوته کوي.

د یوه متریکي فضا $M$ یوه برخدېرۍ $R$ نسبي کومپاکت بلل کیږي، که د $\overline{R}$ رابندوالی یا راتړلوالی کومپاکت وي، یا دې ته ورته، که په $R$ کې هره پرلپسې یوه پولې ته تلونکې برخه پرلپسې ولري.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

د بیلګې په توګه به د حقیقی اعدادو مختلفي برخدېرۍ تر څېړنې لاندې ونیول شی.
لومړی : انتروال $[0,1]$ د $\mathbb{R}$ یو کومپاکت ( او له دې سره یو ن سبي کومپاکت) برخدېرۍ ده، ځکه چې رابنده یا تړلی او محدوده ده.
دویم : انتروال $(0,1]$ د $\mathbb{R}$ کومپامت برخدېرۍ نه ده، ځکه چې د بیلګې په توګه ، د، پرلپسې $1/n$ ، $n\in\mathbb{N}$ پوله خوندي نه لري. دا چې $\overline{(0,1]}=[0,1]$ دی، نو دا نیم

(c) ketabton.com: The Digital Library

واز انتروال نسبي کومپاکت دی. دریم: څلورم: انتروال $[0,\infty)$ د $\mathbb{R}$ کومپاکت برخډېرئ نه ده، ځکه چې په حقیقت کې د وازې ډېرئ $(n-1,n+1)$ ، $n\in\mathbb{N}_0$ څخه پوښ کیږي، مګر دې ته یو پای برخه پوښونه شتون نه لري. له دې امله نیم ناپای انتروال هم نسبي کومپاکت نه دی، ځکه چې د بیلګې په توګه د طبیعي اعدادو پرلپسې $1,2,\dots$ پولې ته تلونکې برخه پرلپسې نه لري.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

### په یوه ساحه باندې ناپرېکیدونکي توابع **Stetige Funktionen auf einem Gebiet**

په $\mathbb{R}$ باندې د( حقیقي- یا کومپلکس ارزښتیزو) ناپریکیدونکو توابعو په فضا $C(\mathbb{R})$ د نیمنورم

$$|f|_{[-k,k]}=\max_{|x|\le k}|f(x)|$$

له لارې د لاندې سره یو متریک تولیدوي

$$d(f,g)=\sum_{k=1}^{\infty}2^{-k}\frac{|f-g|_{[-k,k]}}{1+|f-g|_{[-k,k]}}\ .$$

نسبت دې متریک ته پولې ته تلنه په خوښه کومپاکت انتروال باندې برابرډوله پولې ته تلنه په ګوته کوي. له دې سره پورهوالی لاس ته راځي، ځکه چې په برابرډوله پولې ته تلنې سره ناپرېکیدنه خوندي پاتې کیږي.
د تولیزې ساحې $D\subseteq\mathbb{R}$ لپاره به ورته توګه مخ ته ځو. د انتروال $[-k,k]$ په ځای یوه دا ساحه جوړه وونکې د کومپاکتو ډېریو پرلپسې

$$K_1\subset K_2\subset K_3\subset\cdots\subset D$$

کارول کیږي یا استعمالیږي.
د $C_0(D)$ سره په $D$ د ناپرېکیدونکو توابعو ډېرئ په نخښه کوو، د کومپاکت وړونکي(انتقال کوونکي) سره.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

### ازماېښتي توابع **Testfunktionen**

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې ساحې $D \subseteq \mathbb{R}$ لپاره په $D$ باندې د ناپای ډېرواره مشتقوړ توابعو لپاره ساحه $C^\infty(D)$ ده.
د تابع لاندې فضا، چې د کومپاکت برخه ډېرۍ $K \subset D$ د باندې برته ده ورکيږي، د $C_0^\infty(D)$ سره يا د ازماېښت توابعو $\mathcal{D}$ په نخښه کيږي. دا فضا چې له شوارڅ( Schwartz ) له خوا منځ ته راوستل شوې، په ټوټه انتګرالمساواتو او ديستريبوتيو تيوري مطالعه کې غوره رول لوبوي.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

## کمزوري يا ضعيف مشتقونه **Schwache Ableitung**

د ټوټه انتيګرال په مرسته کيدی شي کلاسيکي مشتقکليمې ټولنيزې شي. يو تابع

$$\partial^\alpha f, \quad \partial^\alpha = \prod_\nu \left(\frac{\partial}{\partial x_\nu}\right)^{\alpha_\nu}$$

يو په تعريف ورشو يا ساحه $D$ تعريف شوې تابع $f$ د کمزورې مشتق په نامه يادوو، که

$$\int_D \partial^\alpha f(x)g(x)\,dx = (-1)^{|\alpha|}\int_D f(x)\partial^\alpha g(x)\,dx, \quad \forall g \in C_0^\infty(D),$$

د $\alpha = (\alpha_1, \ldots, \alpha_n)$، $|\alpha| = \alpha_1 + \cdots \alpha_n$ سره باور ولري. له دې سره و ړاندنيونه ده، چې د ازماېښت توابع $g$ لپاره دواړه انتيګرالونه شتون لري. د بيلګې په توګه دا حالت هلته رامنځ ته کيږي، که $\partial^\alpha f$ او $f$ په هر د $D$ په هر کومپامتبرخه ډېرۍ مطلق انتيګرالوړ وي.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

## توپولوژيکي وکتور فضاوې **Topologischer Vektorraum**

يو توپولوژيکي وکتروفضا $V$ يوه وکتور فضا ده، د وازو ډېريوو ياسټونو په يوه سيستم $\mathcal{U}$ باندې د لاندطخويونو سره ورکړل شوی يا روښانه شوی دی

T1

$\emptyset \in \mathcal{U}$

(c) ketabton.com: The Digital Library

T2

$V \in \mathcal{U}$

T3

د هرو وازو ډېريو یا سټونو $U_1, U_2 \in \mathcal{U}$ لپاره باور لري

$U_1 \cap U_2 \in \mathcal{U}$

T4

د په خوښه وازو ډېريو $U_i \in \mathcal{U}$ لپاره باور لري

$$\bigcup_{i \in I} U_i \in \mathcal{U} .$$

یوه وازه ډېرئ $U(v) \in \mathcal{U}$ د یوه ټکي $v \in V$ چاپیریال بلل کیږي، که $v \in U(v)$ باور ولري.

د سرچینې یا پیل د چاپیریالونو $U_i(0)$ ډېرئ لوکال بنسټ $\mathcal{B}$ بلل کیږي، که هر چاپیریال $U(0)$ د لوکال بنسټ یو توکی خوندي ولري

$$\exists_i : U_i(0) \subseteq U(0) .$$

داسې یو توپولوژیکي جوړښت کیدی شي د بیلګي په توګه د یوه متریک یا نورم له لارې کره وټاکل شي یا کره شي. دا یو پولې ته تلنکلیمه راکوي. یوه پرلپسې $(v_n)$ ټیک هلته یوه کوښي پرلپسې ده، که د ټولو $U_i(0) \in \mathcal{B}$ لپاره یو ایندکس $n_0$ داسې شتون ولري چې د ټولو $m, n > n_0$ لپاره

$v_m - v_n \in U_i(0)$ باور ولري.

که $v_\infty$ د $(v_n)$ پوله ارزښت وي، نو د $v_\infty$ په هر چاپیریال $U$ کې د پرلپسې ټول

(c) ketabton.com: The Digital Library

غړي پراته دي تر د پای ډېرو غړو پورې يعنې پای ډېر غړي کيدی شي له دې چاپريال دباندې پراته وي.

ليکونکي: اېپ، هيوليګ

## د بانخ فضا Banach-Raum

يو نورمي وکتورفضا $V$ د بانخ فضا بلل کيږي، که د نورم له لارې منځ ته راغلي متريک پوره وي، دا په دې معنا چې که هره کوشي پرلپسې په $V$ کې يو پوله ارزښت ولري.

هر رابنده لاندې وکتور فضا $U \subset V$ هم د د بانخ فضا ده.
په ځانګړې توګه پای پراخيدونکې يا پای بعدې فضاوې نورمي وکتور فضاوې دي.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

## په يوه کومپاکت ډېريو باندې ناپرېکيدونکې توابع
## Stetige Funktionen auf einer kompakten Menge

د ناپرېکيدونکو( حقيقي- يا کومپلکس ارزښتيز) توابع په يوه کومپاکت برخه ډېريو $K \subseteq \mathbb{R}^n$ باندې فضا $C(K)$ بانخ فضا ده نسبت د

$$\|f\|_\infty = \max_{x \in K} |f(x)|$$

له لارې تعريف شوي نورم ته. پوره کيدنه لاس ته راځي، ځکه چې برابرډوله پولې ته تلنه ساتلې پاتې کيږي.
د تعريف ورشو کومپکتوالی روښانه دی. په وازه يا نامحدود ډېرئ باندې ناپرېکيدونکې توابع بايد نه دی، ماکسيموم ولري، له دې امله د حالتونو سره سم پای نورم نه لري.
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

## په کومپاکت ډېريو باندې مشتقوړ توابع
## Differenzierbare Funktionen auf einer kompakten Menge

د $m$ -ځله ناپرېکيدونکو مشتقوړ توابعو )( حقيقي – يا کومپلکس ارزختيزې) فضا $C^m(K)$ په يوه کومپاکت برخه ډېرئ $K \subseteq \mathbb{R}^n$ نسبت و

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\|f\|_{k,\infty}=\sum_{|\alpha|\le k}\|\partial^\alpha f\|_\infty$$

ته د تعریف شوي نورم یو باناخ-فضا ده. پوره والی لاس ته راځي، ځکه چې د ټوټه مشتقونو $\alpha=(\alpha_1,\dots,\alpha_n)$ ، $\partial^\alpha f$ ناپرېکیدونکی مشتقوړ تابع، د برابر ډوله پولې ته تلنه ساتلې پاتې کيږي.

د تعریف ورشو کومپکتوالی روښانه دی. په وازه یا نامحدود ډېرئ باندې ناپرېکیدونکې توابع باید نه دی، ماکسیموم ولري، له دې امله د حالتونو سره سم پای نورم نه لري.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

## p -انتیګرالوړ توابع p-integrierbare Funktionen

د یوې ساحې $D\subseteq\mathbb{R}^n$ لپاره $L^p(D)$ ، $1\le p<\infty$ ، د تابع باناخ-فضا په ګوته کوي، چې هغه نسبت و نورم

$$\|f\|_p=\left(\int_D |f|^p\right)^{1/p}$$

ته د ناپرېکیدونکي له لارې د د کومپاکت وړونکي ډېرئ سره ښپروکسیمي کيږي، دا په دې معناچې د $L^p(D)$ رابندونه Abschluß ده نسبت و $\|\cdot\|_p$ ته ده.
توابع فقط تر کچې صفر پورې په ډېرئ ټکي ډوله تعریف دي. سړی لیکي $f=g$
ن.ه. : نږدې هرچېرته (almost everywhere)
د توابعو لپاره، چې فقط په یو صفرډېرئ یا"فرسټ سره توپیري او داسې توابع راپیژني.
په ټیکه توګه سړی ورته والی یا اکویوالنت تر څېرنې لاندې نیسي، چې د هغوی لپاره $f$ او $g$ ځای نیونکي یا نماینده ګان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لبسک انیګرال په مرسته کېدی شي $L^p(D)$ په ټولیزه توګه د په خوښه لیبسک-کچوړ ډېرئ لپاره تعریف شي. د اپروکسیمیشن ته کیدی شي، ریمن-انتیګرال ته ورته د زیني توابع کارول کیږي، چي د لیبسک-کچوړ د $D$ په برخه ډېرئ ثابت دی.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

**محدود توابع Beschränkte Funktionen**

د لیبسک کچوړ توابعو $f$ $D \subseteq \mathbb{R}^n$ د ساحي یا ورشو لپاره د بانخ فضا د $L^\infty(D)$ سره په نخښه کو، چي په یوه صفرډېرئ محدود دی، دا په دې معنا،چي
$$|f(x)| \leq c < \infty$$
نږدې هر چیرته دی. د $c$ کوچني بند یا بندیز یا نور هم ښه پوله د
$$||f||_\infty = \operatorname{ess}\sup_{x \in D} |f(x)|$$
سره په نخښه کوو.
فضا $L^\infty(D)$ د ټول هرچیرته په $D$ محدودو توابعو یوه اصلي برخه ډېرئ ده. دواړه فضاوې کیدی شي نسبت $||\cdot||_\infty$ ته د ناپرېکیدونکو توابعو سره جوړي یا تولید کړای شي. دا یو روښانه توپیر دی د $p$ – انتیګرلوړ توابعو $L^p(D)$ ته.

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

د موزونو اریتمیتیکي او هندسي منځ ترمنځ نابرابرونونه

**Ungleichung zwischen dem gewichteten arithmetischen und geometrischen Mittel**

د زیاتیزو یامثبتو $a_1, \ldots, a_n$ ګنونو لپاره اریمیتیکي منځ نسبت هن**دسي منځ یا وسط ته کوچنی نه دی:**

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\frac{a_1+\cdots+a_n}{n} \geq \sqrt[n]{a_1\cdot\ldots\cdot a_n}\,.$$


په ټولیزه توګه د مثبت وزن $\lambda_i$ لپاره د $\sum_{i=1}^n \lambda_i = 1$ سره باور لري

$$\lambda_1 a_1+\cdots+\lambda_n a_n \geq a_1^{\lambda_1}\cdots a_n^{\lambda_n}\,.$$

برابروالی ټیک هلته باور لري، که $a_1=\cdots=a_n$ باور ولري.

سړی د $a=\sum_i \lambda_i a_i$ او $b=\ln a$ سره د لوګاریتم کوني وروسته موَزن نابرابرون یا نامسوات ورته غوښتني لاسته راوړي.

$$\sum_i \lambda_i \ln a_i \leq \ln a\,.$$




که-لکه په مشتق کې چې ښوول شوی- وکارول شي، چې تانجنت

$$g:\ \ y=b+\frac{1}{a}(x-a)$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوګاريتم د ګراف پورته لور ته پروت دی، نو د $\sum_i \lambda_i = 1$ له امله لاس ته راځي

$$\sum_i \lambda_i \ln a_i \le \sum_i \lambda_i \left( b + \frac{1}{a}(a_i - a) \right) = b + \frac{1}{a} \left( \sum_i \lambda_i a_i - a \right) = b$$

لکه چې غوښتل مو.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

د انتيګرالونو لپاره د هولدر نابرارونونه
**Höldersche Ungleichung für Integrale**

وي دې $f \in L^p(D)$ او $g \in L^q(D)$ د $1 < p < \infty$ او د $1/p + 1/q = 1$
سره. نو $fg \in L^1(D)$ باور لري او لاندې د هولدر نامساوات باور لري

$$\int_D |f(x)g(x)|\, dx \le \left( \int_D |f(x)|^p\, dx \right)^{1/p} \left( \int_D |g(x)|^q\, dx \right)^{1/q}.$$

مساوات تيک هلته باور لري، که د توابعو $|f|^p$ ، $|g|^q$ څخه يو يې نږدې هر چيرته د د بل ډېرواره وي.
د پولې حالت $p = \infty$ ، $q = 1$ ( همداسې $p = 1$ ، $q = \infty$ د $f$ او $g$ سره بدليدنې) لپاره

$$\int_D |f(x)g(x)|\, dx \le \|f\|_\infty \int_D |g(x)|\, dx.$$

باور لري
د $p = q = 2$ لپاراه دا مساوات د کوشي-شوارځ نامساوات هم بلل کيږي.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

(c) ketabton.com: The Digital Library

فقط دا ناساده حالت $1 < p < \infty$ تر ځيرنې لاندې نيسو. داپسې بي له ټوليزو بنديزونو کيدی شي ونيول شي يا فرض شي، چې انتيګرال

$$I_1 = \int_D |f(x)|^p dx \quad \text{او} \quad I_2 = \int_D |g(x)|^q dx$$

زياتيز يامثبت دي. که د بيلګې په توګه $I_1 = 0$ وی،، نو $|f|^p$ او له دې سره به هر $f$ چيرته ورک شي، دا په دې معنا چې، $\int_D |f(x)g(x)|\,dx = 0$ او نا مساوات به په ساده توګه پوره وی. دا چې نامساوات د سکالا کونې $f \to rf$ ، $g \to sg$ په مقابل کې اينواريانت يا بې تغيره دی، کيدی شي برسېره پردې $I_1 = I_2 = 1$ ونيول يا فرض شي.
د موَزنو اريتميتيکي - او هندسي - يا ځمککچيز منځ ترمنځ باور لري

$$|fg| = (|f|^p)^{1/p}(|g|^q)^{1/q} \leq \frac{1}{p}|f|^p + \frac{1}{q}|g|^q\,.$$

له دې سره $fg \in L^1(D)$ دی او د انتيګرالونې پسې لاس ته راځي

$$\int_D |f(x)g(x)|\,dx \leq \frac{1}{p}I_1 + \frac{1}{q}I_2 = 1\,.$$

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## د انتيګرال لپاره د مينکوفسکي ناساوات
## **Minkowskische Ungleichung für Integrale**

د دوه توابعو $f$ او $g$ په $L^p(D)$ کې د $1 \leq p < \infty$ سره د مينکوفسکي نامساوات باور لري

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\left(\int_D |f(x)+g(x)|^p\,dx\right)^{1/p} \le \left(\int_D |f(x)|^p\,dx\right)^{1/p} + \left(\int_D |g(x)|^p\,dx\right)^{1/p}.$$

مساوات ټیک هلته باور لري، که د توابعو $f$ ، $g$ څخه یو یې تل هر چیرته د بل ډېرواره یو نامنفي ولري.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

دا چې حالت $p=1$ ساده دی، په لاندې کې به $p>1$ ونیول یا فرض شي. ورپسې دې همداسې $1/p+1/q=1$ وي او انتیګرال

$$I=\int_D |f(x)+g(x)|^p\,dx$$

دې بې له تولیزو محدودیتونو زایاتیز وي. نو د درېګوډي نا مساوات سره لاس ته راځي

$$\begin{aligned} I &= \int_D |f(x)+g(x)|\,|f(x)+g(x)|^{p-1}\,dx \\ &\le \int_D |f(x)|\,|f(x)+g(x)|^{p-1}\,dx + \int_D |g(x)|\,|f(x)+g(x)|^{p-1}\,dx. \end{aligned}$$

د هولدر نامساوات او $(p-1)q=p$ سره

$$\le \left(\int_D |f(x)|^p\,dx\right)^{1/p} \left(\int_D |f(x)+g(x)|^{(p-1)q}\,dx\right)^{1/q}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$+\left(\int_D |g(x)|^p\,dx\right)^{1/p}\left(\int_D |f(x)+g(x)|^{(p-1)q}\,dx\right)^{1/q}$$

$$=\left(\left(\int_D |f(x)|^p\,dx\right)^{1/p}+\left(\int_D |g(x)|^p\,dx\right)^{1/p}\right)I^{1/q}\,.$$

د $I^{1/q}$ سره د وېشنې له لارې سرې د مينکوفسکي نامساوات لاس ته راوړي
ليکونکي: اېپ، هيوليګ

د سوبوليف فضاوې **Sobolev-Räume**

د ورشو $D \subseteq \mathbb{R}^n$ لپاره
$W^{k,p}(D), \quad k \in \mathbb{N}_0, \quad 1 \leq p \leq \infty,$

د توابعو باناخ فضا بنايي د $\leq k$ نظم د کمزورو مشتقونو سره په $L^p(D)$ او

$$\|f\|_{k,p} = \left(\sum_{|\alpha|\leq k}\int_D |\partial^\alpha f(x)|^p\,dx\right)^{1/p}, \quad 1 \leq p < \infty$$

کې همداسې

$$\|f\|_{k,\infty} = \max_{|\alpha|\leq k}\|\partial^\alpha f\|_\infty = \max_{|\alpha|\leq k}\ \operatorname{ess\,sup}_{x\in D}|\partial^\alpha f(x)|$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

اړونده نورم. اړونده نیم نورم

$$|f|_{k,p} = \left( \sum_{|\alpha|=k} \int_D |\partial^\alpha f(x)|^p \, dx \right)^{1/p}, \quad 1 \le p < \infty$$

همداسې

$$|f|_{k,\infty} = \max_{|\alpha|=k} \|\partial^\alpha f\|_\infty = \max_{|\alpha|=k} \operatorname{ess\,sup}_{x\in D} |\partial^\alpha f(x)|$$

فقط د جګ نظم مشتق کاروي.
په ځانګړي توګه دی

$$W^{0,p}(D) = L^p(D) \,.$$

لیکونکي: اپپ، هیولیګ

د بیلګې په توګه تابع

$$f(x) = |x|^s, \quad s \neq 0,$$

په $n$ –بعدیزې یا $n$ –پراخیدونې یونګردئ(دایره واحد)

$$D = \{x \in \mathbb{R}^n : \quad |x| < 1\}$$

تر څیرنې نیول کیږي. د $s > -n$ لپاره $f$ انتیګرالوړ دی،، څکه چې د ګردئ کواوردیناتونه(پراته ولاړ محرونه) ($r = |x|$) سرې لاس ته راوړي

$$\|f\|_{0,1} = \int_D |x|^s \, dx = c_n \int_0^1 r^s r^{n-1} \, dr \,,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

چيرته چې $c_n$ دا $n-1$ – بعديز حجمونو يونفضا ( واحد فضا) ده. پسی دی

$$\partial_\nu f(x) = s|x|^{s-2}x_\nu$$

د $s > 1-n$ لپاره د $f$ يو انتيګرالوړ کمزوری مشتق دی، په سرچينه کې د سيګولاريټي سره. په غونډاري کواودينات کې سړی لاس ته رانړي

$$\|f\|_{1,2}^2 = \int\limits_D |f(x)|^2\,dx + \sum_{\nu=1}^{n}\int\limits_D |\partial_\nu f(x)|^2\,dx$$

$$= \text{const.}\int\limits_0^1 \left(r^{2s} + s^2 r^{2s-2}\right) r^{n-1}\,dr$$

د $r = |x|$ سره. له دې سره $f \in W^{1,2}$ دی د $s > 1-n/2$ لپاره. دا چې د $n > 2$ لپاره کميز اکسپوننتونه $s$ هم منځ ته راتلی شي، له دې لاس ته راځي، چې مربع انتيګرالوړ مشتقونه نه اړين محدود دي. د مشتقونو کمزوروالي څخه ناپرېکيدنه لاس ته راځي.

که همدا توابع په ساحه

$$\tilde{D} = \{x \in \mathbb{R}^n : \quad |x| > 1\}$$

وڅيړل شي، نو $f$ مربع انتيګرالوړدی د $s < -n/2$ لپاره او کمزوري مشتقونه د $s < 1-n/2$ لپاره مربع انتيګرالوړ دي، کوم چې بيرته د غونډاري کواوردينات

$$\sum_{\nu=1}^{n}\int\limits_{\tilde{D}} |\partial_\nu f(x)|^2\,dx = \text{const}\int\limits_1^\infty r^{2s-2}r^{n-1}\,dr$$

سره ښوول کيدی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ليکونکي: ايپ، هيوليک

کمزوري مشتقونه په حقيقت کې تولګيزه يا کلاسيکي مشتقکليمه توليزه کوي، مګر قوي سينګولاريتي اجازه نه لري. د بيلګې په توګه تابع

$$f(x) = \begin{cases} 1, & x_1 \geq 0, \\ 0, & \text{sonst} \end{cases}$$

راوړو، په $n$-بعدي يا $n$– پراخيدوني انتروال

$$D = (-1,1)^n$$

ترڅيرني لاندې نيسو. تابع په هيوپرسطحهHyperebene

$$S = \{x \in \mathbb{R}^n : x_1 = 0\}$$

پرېکيدونکي ده او مربع – انتيګرالوړ کمزوری مشتق $g = \partial_1 f \in L^2(D)$ نه لري، دا په دې معنا چې مساوات

$$\int_D g(x)\varphi(x)\,dx = -\int_D f(x)\partial_1\varphi(x)\,dx$$

د هيڅ کوم $g$ لپاره د ټول $\varphi \in C_0^\infty(D)$ لپاره پوره ورړ دی. د دې لپاره چې دا وښايو، نو يو ازمايښت تابع

$$\varphi(x) = \varphi(x_1, x_2, \ldots, x_n) \geq 0, \quad \varphi(0) > 0\,,$$

ټاکو او ودې ته د $1 > \varepsilon > 0$ لپاره

$$\varphi_\varepsilon(x) = \begin{cases} \varphi(x_1/\varepsilon, x_2, \ldots, x_n), & x_1 \in (-\varepsilon, \varepsilon) \\ 0, & \text{sonst} \end{cases}.$$

له دې سره په پورته مساوات کې د ښي اړخ لپاره راکوي

$$\int_D f(x)\partial_1\varphi_\varepsilon(x)\,dx \qquad = -\int_{x_1 \geq 0} \partial_1\varphi_\varepsilon(x)\,dx$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$= \int\limits_{(-1,1)^{n-1}} \varphi_\varepsilon(0, x_2, \dots, x_n)\, dx_2 \dots dx_n$$

$$\int\limits_{n-1} \varphi(0, x_2, \dots, x_n)\, dx_2 \dots dx_n = \text{const} > 0$$

په داسي حال کې چې په کينه خوا د کوشي-شوارخ نامساوت

$$\left| \int\limits_D g(x)\varphi_\varepsilon(x)\, dx \right| \le \|g\|_2 \left( \int\limits_D |\varphi(x_1/\varepsilon, x_2, \dots, x_n)|^2\, dx \right)^{1/2}$$

$$\left( \int\limits_D |\varphi(y_1, y_2, \dots, y_n)|^2\, \varepsilon\, dy \right)^{1/2} = O\left(\varepsilon^{1/2}\right)$$

د $\varepsilon$ سره د صفر0 په لور ځي.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

د سوبوليو په کې خونديوني جمله**Sobolevscher Einbettungssatz**

د يوې ليښشيخ ورشو $D \subset \mathbb{R}^n$ لپاره د سوبوليو-فضا لپاره خونديونه

$$W^{k,p}(D) \subset W^{l,q}(D), \quad q > p, \quad \frac{k-l}{n} > \frac{1}{p} - \frac{1}{q},$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

باور لري، له کوم سره چې د $q = \infty$ لپاره تیک یوه خوندیونه په $W^{l,\infty}(D) \cap C^l(D)$ پسې منځ ته راځي.
د محدودې ورشو لپاره خوندیونه کومپاکتده، دا په دې معنا چې محدوده ډېرئ په $W^{k,p}(D)$ کې پولې ته تلونکې پرلپسې په کې $W^{k,p}(D)$ لري.
لیکونکي: اپپ، هیولیګ

د بیلګی په توګه خوندیونه

$$W^{1,p} \subset W^{0,q} = L^q$$

د تابع

$$f(x) = |x|^s, \quad s \neq 0$$

په مټه په $n$–بعدیز یونغونډاري

$$D = \{x \in \mathbb{R}^n : \quad |x| < 1\}$$

څېړل کیږي. تابعه د $s > -n/q$ لپار $q$–انتیګرالوړ ده، ځکه چې د غونډاري کواوردینات ( $r = |x|$ ) سره لاس ته راځي

$$\|f\|_{0,q}^q = \int\limits_D |x|^{sq}\, dx = c_n \int\limits_0^1 r^{sq} r^{n-1}\, dr\,,$$

د کوم سره چې $c_n$ د یوونغونډاري $(n-1)$-بعدیز حجم دی. نور پسې دی

$$\partial_\nu f(x) = s|x|^{s-2} x_\nu$$

د $f$ یو کمزوری مشتق دی، کوم چې د $s > 1 - n/p$ لپاره $p$– انتیګرالوړ دی. دا بیرته کیدی شي د غونډاري کواوردینات له لارې وازمایل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\int_D |\partial_\nu f(x)|^p \, dx \le |s|^p \int_0^1 r^{(s-1)p} r^{n-1} \, dr \,,$$

د کوم سره چط

$$|x_\nu|^p \le \left( \sum_\nu |x_\nu|^2 \right)^{p/2} = r^p$$

کارول شوی. د خونديونې جملې پسې $W^{1,p} \subset W^{0,q}$ دی، که

$$\frac{1}{n} > \frac{1}{p} - \frac{1}{q}$$

همداسې

$$1 - \frac{n}{p} = n\left(\frac{1}{n} - \frac{1}{p}\right) > n\left(-\frac{1}{q}\right)$$

باور ولري، کوم چې په  باندې د پورته شرايطو سره سر خوري.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## د بانخ ځای په ځای تکي جمله **Banachscher Fixpunktsatz**

که $g$ يو رايوځای کيدونکي تابع وي، کوم چې يوه نه تشه، رابنده  ډېرئ $D \subset \mathbb{R}^n$ په خپل ځان ځيره کړي، دا په دې معنا چې، باور لري

- $D = \overline{D}$
- $x \in D \Rightarrow g(x) \in D$
- $\|g(x) - g(y)\| \le c\|x - y\| \quad \forall x, y \in D$

(c) ketabton.com: The Digital Library

د $c < 1$ سره، نو $g$ یو یوائځنی ځاپه ځای ټکی $x_* = g(x_*) \in D$ لري. که له
$x_0 \in D$ راووځو یا مخ ته لاړ شو، نو کیدی شي $x_*$ د اتریشن پرلپسي ( د تکرار پرلپسي) له لارې

$$x_0,\, x_1 = g(x_0),\, x_2 = g(x_1),\, \ldots$$

اپروکسیمیر( په نږدې توګه ټاکل) شي یا نږدې ( که غواړئ: تقریبي) وټاکل شي. د ناټیکاوي لپاره باور لري

$$\|x_* - x_k\| \le \frac{c^k}{1-c}\,\|x_1 - x_0\|$$

دا په دې معنا چې، که د اتریشنپرلپسي یا د تکرار پرلپسي د هر پیل ارزښت لپاره کرښیزه پولې ته لاړه شي.
د ځای په ځاي ټکي جمله په ټولیزه توګه په پوره متریکي فضاو کې باور لري. دا چې د ترانسلیشن واریانځ او نورم هوموجینیتی ته اړتیاپیښنه نه شي، کیدی شي سرې $\|x - y\|$ د یوه ټولیز واټن تابع له لارې $d(x,y)$ بدل کړي.
لیکونکي: اپپ، بوسلې، هیولیګ

## سکالار ضرب **Skalarprodukt**

یو سکالار ضرب په یو کومپلکس وکتور فضا $V$ یو تابع دی
$$\langle\cdot,\cdot\rangle : V \times V \to \mathbb{C}$$

د لاندې خویونو سره:

- مثبتوالی Positivität: :

$$\langle v, v\rangle > 0 \quad \text{für} \quad v \ne 0$$

- مایلسیمتري Schiefsymmetrie: :

$$\langle u, v\rangle = \overline{\langle v, u\rangle}$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

- کرښيزوالی Linearität:

$$\langle \lambda u + \varrho v, w \rangle = \lambda \langle u, w \rangle + \varrho \langle v, w \rangle$$

له دې سره $u, v, w \in V$ او $\lambda, \varrho \in \mathbb{C}$ په خوښه وکتورونه همداسې سکالار دي.
د مايل سيومتري په بسته يو کومپلکس سکالار ضرب نسبت و دويمي متحولي يا اووښتوني ته کرښيز نه دی:

$$\langle u, \lambda v + \varrho w \rangle = \overline{\lambda} \langle u, v \rangle + \overline{\varrho} \langle u, w \rangle \,.$$

يواځې د حقيقي سکالار لپاره کومپلکس کنجوګيشن بې معنا دی.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ، کرايخ

## هيلبرت - فضا Hilbert-Raum

يوه هيبرت – فضا $H$ يوه پوره نورمي ( حقيقي يا کومپلکس) وکتور فضا ده، چې په کومه کې نورم د سکالار ضرب له لارې تعريف ده:

$$\|v\| = \sqrt{\langle v, v \rangle} \,.$$

په ځانګړې توګه د کوشي – شواذرځ نابرابرونونه باور لري

$$|\langle u, v \rangle| \le \|u\| \|v\|$$

همداسې د غبرګ اړخيز-ايدنتيتي يا - - کتمتوالی

$$\|u + v\|^2 + \|u - v\|^2 = 2\|u\|^2 + 2\|v\|^2 \,.$$

سرې د هيلبرت-فضا Hilbert-Raum سيپارابل Hilbert-Raum بولي، که يوه ګڼلوړ اورتونورمال بنسټ

$$e_1, e_2, \ldots, \quad \langle e_i, e_j \rangle = \delta_{i,j} \,,$$

شتون ولري. په دې حالت کې هر $v \in H$ د فوری- وديزينه-die Fourier Entwicklung

$$v = \sum_{k=1}^{\infty} \langle v, e_k \rangle e_k \,,$$

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې نسبت پورته نورم ته پولې ته تلونکي ده.
ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## مربع جمعه کېدونکې پرلپسې Quadratsummierbare Folgen

مربع جمعه کېدونکې پرلپسې
$c_1, c_2, \ldots, \quad c_i \in \mathbb{C}$

هيلبرت-فضا $l^2$ جوړوي سبت سکالار ضرب ته

$$\langle c, d \rangle = \sum_{k=1}^{\infty} c_k \overline{d_k} \,.$$

فضا $l^2$ د يوه سيپارابل هيلبرت-فضا $H$ پروتو تويپ دی، ځکه چې هر توکی

$$v = \sum_{k=1}^{\infty} c_k e_k \in H$$

کيدی شي د د اورتوګونال بنسټ د ضريب $c_k$ سره معلومه identifiziert شي. له دې سره باور ل ري

$$\|v\|_H = \|c\|_{l^2} \,,$$

دا په دې معنا، چې فضاوې $H$ او $l^2$ ايزومورف دي.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## مربع انتيګراوړ توابع **Quadratintegrierbare Funktionen**

د يوې ورشو يا سطحې $D \subset \mathbb{R}^n$ لپاره $L^2(D)$ د تابع $f: \; D \to \mathbb{C}$ فضا بنايي
د لاندې سر

$$\int_D |f(x)|^2 \, dx < \infty$$

او دا د سکالار ضرب

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\langle f, g\rangle_2 = \int\limits_D f(x)\overline{g(x)}\,dx$$

له لارې منځ ته راغلی نورم $\|\cdot\|_2$ .

په بدیله توګه کیدی شي $L^2(D)$ د ښویي تابع په څیر د رابندېدنې په توګه هم تعریف شي، دا په دې معنا ، چې هر مربع انتیګرالوړ تابع کېدی شي د یوې ناپای پرلپسي په توګه د زیاتځله مشتقوړ تابع $f_n$ له لارې اپروکسیمی یا په نږدې توګه انځور شي شي:

$$\|f - f_n\| \to 0, \quad n \to \infty\,.$$

لیکونکي: اېپ، هیولیک

د بیلګې په توګه تابع

$$f(x) = |x|^s$$

په پراخیدونې یا - بعدیزې یوونګردی( دایره واحد)

$$D = \{x \in \mathbb{R}^n : |x| < 1\}$$

تر ځیرنې لاندې ونیل شي.

د غونډاري کواوردینات ( $r = |x|$ ) سره لاس ته راځي

$$\int\limits_D |f(x)|^2\,dx = c\int\limits_0^1 r^{2s} r^{n-1}\,dr = c\left[\frac{r^{2s+n}}{2s+n}\right]_0^1,$$

دا په دې معنا چې $f$ د $2s > -n$ لپاره مربع اایګرال وړ دی.

که همدا تابع په ساحه

$$\tilde{D} = \{x \in \mathbb{R}^n : |x| > 1\}\,,$$

تر ځیرنې لاندې ونیسو، نو بیا هم د غونډاري کواوردینات سر لاس ته راځي

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$\|f\|_2^2 = \int_{\bar{D}} |x|^{2s}\, dx = c \int_1^{\infty} r^{2s} r^{n-1}\, dr\,,$$

دا په دې معنا، چې $2s < -n$ د $f$ لپاره مربع انتيګرالوړ دی.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

## د مربع انتيګرالوړ توابعو سوبوليف – فضا

## Sobolev-Raum der quadratintegrierbaren Funktionen

د يوې ورشو $D \subseteq \mathbb{R}^n$ لپاره $H^k(D) = W^{k,2}(D)$ د ( حقيقي - يا کومپلکس ارزښتيزو) هيلبرت-فضا په ګوته کوي. توابع د مربع انتيګرالوړ کمزورو ټوټه مشتقونو سره ، چې نظم $\leq k$ لري د سکالار ضرب

$$\langle f, g\rangle_{k,2} = \sum_{|\alpha|\leq k} \int_D \partial^\alpha f(x) \overline{\partial^\alpha g(x)}\, dx$$

له لارې

$$\langle f, g\rangle_{k,2} = \sum_{|\alpha|\leq k} \int_D \partial^\alpha f(x) \overline{\partial^\alpha g(x)}\, dx$$

منځ ته راغلي نورم $\|\cdot\|_{k,2}$ سره. اړونده نيم نورم

$$|f|_{k,2} = \left( \sum_{|\alpha|=k} \int_D |\partial^\alpha f(x)|^2\, dx \right)^{1/2}$$

فقط د جګ نظم مشتق کاروي.

ليکونکي: اپپ، هيوليګ

د فورير- لړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library

$$f(x) = \sum_{k\in\mathbb{Z}} c_k e^{\mathrm{i}kx}$$

په $D = [-\pi, \pi]$ باندې مربع انتیګرالوړ دی، که

$$\sum_{k\in\mathbb{Z}} |c_k|^2 < \infty \,,$$

وي، ځکه چې

